مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

احسان الله ارینزی

۲۰۱۹/۱۱/۲۳

خپله خوله هم کلا ده هم بلا!

پنځه ورځې د افغانستان د خلکو اسلامي وحدت ګوند مشر او د اجراییه ریاست دوهم مرستیال محمد محقق، د هېواد د جمهوري ریاست د لومړي مرستیال، عبدالرشید دوستم، لیدو ته لاړ چې نوی له ترکیی څخه بېرته هېواد ته ستون شوی دی.
په دې سفر کې له محمد محقق سره، چې اوس د ثبات او همپالنې په ټاکنیز ټکټ کې، د ډاکټر عبدالله عبدالله دوهم مرستیال هم دی، د ولسي جرګې څو غړي هم شبرغان ته تللي وو.
محمد محقق په هغه غونډه کې چې هلته جوړه شوې وه، وویل چې ټاکنې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له واکه وتلی، قواعد او قوانین تر پښو لاندې شوي او کمیسیون هغه 137 زره رایې په سمو منلي چې مخکې قرنطین شوې وې.
محمد محقق له دې هم مخکې لاړ، د یوناما مشر تادامیچي یاماموتو یې یو بې غیرته (!) او رشوت اخستونکی دیپلومات وباله او ادعا یې وکړه چې تادامیچی د افغانستان د دولت مامور دی، د ټاکنو کمیسیون د حکومت په امر کار کوي او ټاکنې عملاً بحران ته تللي!
په غونډه کې جنرال دوستم هم ورته څرګندونې درلودې. ده د هغه پولیسو په هکله چې ممکن د رایو د بیا شمیر له پاره ، د ټاکنو کمیسیون له مامورینو سره مرسته وکړی، وویل چې که بیا په خلکو ډزې وکړي، وضعیت به د ډاکټر نجیب له وخته هم بد شي! جنرال همدا راز وویل چې ټاکنې باید رڼې وي او د ثبات او همپالنې له ټیم څخه یې وغوښتل چې د خلکو د رایو دفاع وکړي.
دا لومړی ځل دی چې د افغانستان په تاریخ کې، د ټاکنو د کمیسیون او د ټاکنو د شکایاتو د اورېدو د کمیسیون غړي د سیاسي ګوندونو په خوښه ټاکل شوي دي. د دې خبرې مانا دا ده چې د دې دواړو کمیسیونونو محترم غړي، د ډاکټر غني د خوښې خلک نه؛ بلکه د حزب وحدت اسلامي مردم افغانستان او جنبش په ګډون، د ټولو سیاسي ګوندونو او مدني ټولنو توافقي خلک دي.
دوهمه خبره چې ډېره واضحه ده، دا ده چې د کال 1398 هـ ش ټاکنو وښوده چې نور نو د رایو پخوانیو بانکونو ماته خوړلي او له صحنې څخه څنډې ته شوي دي. اوس نو همغه (د نام رستم به ز رستم) خبره ډېره سمه ښکاري!
په داسې یو هېواد کې چې 35 ملیونه نفوس لري، 17 – 18 ملیونه د رایو ورکولو وړ دي، 9.5 ملیونه کسانو نومونه ثبت کړي او بیا له دوو ملیونو څخه کم خلک یا د ټول نفوس 5.7% رایه ورکوي؛ نو ښاغلو محقق او دوستم دې دا ومني چې ډېره کاریزما نه ده ورپاته او د نورو تنظیمونو، سیاسي شخصیتونو او بهیرونو په ګډون یې، بشپړه ماته خوړلي ده!
دې ښاغلو به هرومرو ډاکټر عبدالله عبدالله ته سینې ډبولي وي چې میلونونه خلک به ټاکنیزه مراکزو ته وباسي؛ خو که چېرته د دوی ټیم له یو ملیون کمې رایې وړې وي؛ نو دا حضرات دې ومني چې یوازې 2.5% خلک یې پلویان دي او بس. دلته دا خبره هم د یادولو وړ ده چې دا 2.5% هم یوازې په ډاکټر عبدالله عبدالله، محقق او دوستم پورې اړه نه لري؛ دلته نور ډېرې لونګې، پکولونه، نکټایې ګانې او ږیرې هم شته چې ځانونه د عبدالله په ټیم کې د رایو بانکونه بولي! حاجي دین محمد، حضرت علي، ملا قلم الدین، احدي، خلیلي، جمعیت اسلامي او صلاح الدین رباني خو هم یو څو رایې لري، که نه ټولې یوازې د دوستم او محقق دي؟
اوس چې د افغانستان له ولسمشریزه ټاکنو څخه څو پنځوس ورځې تېرېږي او ټوله نړۍ د دې ټاکنو لومړنیو پایلو ته په تمه ده، داسې تبصرې کېږي چې د ټاکنو کمیسیون د ارګ په خوښه کار کوي او د محقق په شان خلک حتی په هغه بهرنیانو هم تورونه لګوي چې د دوی د خوښې خلاف خبره وکړي! لکه چې ښاغلي محقق، د یوناما مشر د حکومت مستخدم او یو بی غیرته انسان وباله او وی ویل چې یاماموتو د افغانستان د خلکو په وړاندې دریدلی دی!!
نه پوهېږم یاماموتو کومه خبره یا کار کړې چې محقق ته بې غیرته (!) ښکاره شوی؟ که فرضاً یاماموتو ویلې وای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

چې عبدالله او محقق او دوستم بریالي خلک دي او د افغانستان له پاره منظمې طرحې لري او د ملیونونو خلکو رایې یې ګټلې، بیا به هم محقق، هغه یو بې غیرته انسان بللی وای!!
ظاهراً محقق او د ثبات ټیم ځکه یاماموتو ته په غوسه دي چې یوناما څو ورځې مخکې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون مشرې، مېرمن حوا علم نورستاني ته یو لیک استولی و او په هغه کې یې په کمیشنر مولانا محمدعبدالله ادعا کړې وه چې د کمیسیون د معلوماتو د مرکز مشر ښاغلی بصیرعلی ته یې قومي او مذهبي کنځلې کړي او هغه یې په مرګ ګواښلی.
دری ورځې مخکې، د ثبات او همپالنې ټیم مشر ډاکټرعبدالله، محقق له شا څخه په چاړه وواهه او د افغانستان د خلکو له پاره یې، د ملګروملتونو او د هغوی د ځانګړې استازي خدمتونه وستایل. ده همدا راز وویل د خبرو په وخت کې باید ډېر پام وشي، هسې نه چې د افغانستان د خلک او نړیوالو ملګرو اړیکې سړې شي او په بهرنیو منابعو یې هم غږ وکړ چې د ټاکنو په اړه دې له احتیاط څخه ځکه کار واخلي چې د افغانستان د خلکو او نړیوالو ملګرو اړیکو ته زیان ونه رسوي.
ډاکټر عبدالله ممکن د امریکا د سفیر جان باس هغه خبرو ته هم غیرمستقیمه اشاره کړی وي چې دوه ورځې مخکې یې ویلي و چې د افغانستان وسله وال پوځونه په ټاکنو کې بې پرې او مسلکي دي. په داسې حال کې چې دا ټیم د ځینو شمالي ولایاتو په پولیسو نیوکه لري چې د رایو د بیا شمېرلو له پاره یې، د خلکو د حرکتونو(!) مخه نیولی. دوی هغه خپل ټیمي ملګري چې د رایو د بیا شمېرنې د مخنیوي له پاره یې ټاکنیز مراکز محاصره کړي، د افغانستان خلک بولي!
په پای کې دا ویل په کار دي چې که افغانستان امن و؛ نو ښاغلي محقق او دوستم او ټول خلک به خوندي وي او خپل ژوند به کوي؛ خو که وضع له کنتروله ووته او سیاسیونو د خپلو شخصي او تنظیمي ګټو له پاره، د هېواد ملي ګټو په پرتله خپلې ګټې درنې وبللې، بیا به همدوي اول تښتی. پخوانیو ترخو تجاربو ښودلې چې هغه کسان چې په افغانستان کې په امتیازاتو، قراردادونو، مناصبو، چور او غضب کې لومړي دي، په تیښته کې هم لومړي دي او ژر ایران، پاکستان، ترکیې، تاجکستان او ازبکستان ته تښتي!!

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ